بسم الله الرحمن الرحيم

د حزب التحریر امیر نامتو عالم عطأ بن خلیل ابو الرشته د خپلې وېب پاڼې ځارونکو ته د ۱۴۴۳ هـ.ق کال، چې د ۲۰۲۲م کال سره سمون خوري، د نېکمرغه کوچني اختر د رارسېدلو له امله مبارکي وايي




الحمدلله والصلاة والسلام على رسول الله، و على آله وصحبه ومن والاه، و بعد:

د بشریت لپاره تر ټول غوره امت، اسلامي امت دی:

(كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّـهِ...)

ژباړه: *«اوس په نړۍ کې هغه غوره ډله تاسو یاست چې د انسانانو د لارښوونې او اصلاح لپاره منځ ته راوړل شوې ده، تاسې پر نیکۍ امر کوئ، له بدیو منع او پر الله تعال ایمان لرئ...»* [عمران: ۱۱۰]

پاکو او صالحو دعوتګرانو او د وېب پاڼې درنو ځارونکو،

کوچنی اختر مو مبارک شه، له الله سبحانه و تعالی څخه غواړم چې د روژې قیام او ټول نېک اعمال مو د الله سبحانه وتعالی په دربار کې قبول او په دې سپېڅلې

میاشت کې د دوزخ له اوره ژغورل شوي وی. ترمذی په خپل سنن کې د رمضان د شپې په اړه له ابو هريرة رضی الله تعالی عنه څخه روايت کړی، هغه وايي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دی:

(ولله عتقاء من النار وذلك كل ليلة)

ژباړه: *« الله سبحانه وتعالی په هره شپه کې بې شمېره کسان د دوزخ له اوره ژغوري»* [حکيم په خپل مستدرک کې را اخيستی دی]

زه هم له الله سبحانه وتعالی څخه غواړم چې دا اختر د مسلمانانو لپاره له دې ظالمانه واکمنۍ وروسته، چې سل کاله کېږي ورسره لاس او ګرېوان يو، د خير او برکت زيری وګرځوي، تر څو راتلونکی اختر د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر منهج د راشده خلافت تر بيرغ لا الله الاالله محمدرسول الله تر سيوري لاندې ولمانځو، دا د الله سبحانه وتعالی لپاره لويه خبره نه ده.

احمد په خپل مسند کې له حذيفه ابن يمان څخه روايت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل:

(...ثم تكون ملكا جبرية، فتكون ما شاء الله أن تكون، ثم يرفعها إذا شاء أن يرفعها، ثم تكون خلافة على منهاج نبوة)

ژباړه: «...ورپسې به جبريه او ظالم حکومتونه راشي، تر کله چې د الله تعالی خوښه وي، دوام به وکړي، بيا چې کله الله تعالی وغواړي، ليرې کوي يي او يو ځل بيا به د نبوت پر منهج خلافت راځي. بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم چوپ شو.» []

په پای کې تاسو ټولو ته د زړه له تله سلامونه وړاندې کوم او د الله سبحانه وتعالی دربار ته د دعا لاسونه لپه کوم، چې عبادات مو په خپل دربار کې قبول کړي.

والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته

د کوچني اختر ورځ،

د ۱۴۴۳ هـ.ق کال، د شوال لومړۍ نېټه

ستاسو ورور

عطأ بن خلیل ابو الرشتة

#دـحزبـالتحريرـامير

